SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونيزه

په اوونی کي دوه ځله خپريږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال شپر دیرشمه گڼه پرله پسي(۳۲۳)چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د صفرالمظفر(۱۳)د۱۳۷۹هـ ش کال د غوايی (۲۸)د۲۰۰۰ميلادي کال د مي(۱۷)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدي دی تقوا(پرهيزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری مرستيال له بی بی سی سره په مرکه کی :

۲۵۰۰ قلمه لرغونی آثار له سرحدی پولو نه تر لاسه او ملی موزيم ته سپارل شوی دي

د افغانستان د اسلامی امارت د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری مرستيال محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک د هغو تبليغاتو په اړه چی گواکی د هيواد په لرغونو سيمو کی په غير فنی او غير قانونی توگه د لرغونو اثارو کيندنه کيږی د بی بی سی راډيو له خبريال سره په يوه تيلفونی مرکه کی وويل :

په هيواد کی د اسلامی امارت په استحکام سره په کلتوری او فرهنگی برخه کی چه پرمختگ شوی هغه سيمی چی هلته لرغونی آثار موندل کيږی د هغوی د ساتنی او مراقبت لپاره لازم اقدامات تر سره شوی. د تيرو رژيمونو په دوره کی په دغو سيمو کی نژدی ۸۰٪ غير فنی ، مخ

در ملاقات وزراء داخله افغانستان و پاکستان :

موضوع افغان ترانزيت مورد بحث قرار گرفت

اين مضوع براي مردم هر دو کشور از اهميت حياتي برخوردار است

جهت تسهيلات در رفت و آمد مهاجرين تصاميم لازم اتخاذ گرديد

هيأت بلند پايه ا.ا.ا تحت رياست محترم ملا عبدالرزاق اخند ديروز در نشست وسيعي با وزير امور داخله جمهوري اسلامي پاکستان و مسؤولين بلند پايه آنکشور روي موضوعات مورد علاقه دو کشور مذاکرات مفيد و ثمر بخشي را انجام داد .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : هيأت ا.ا.ا که اخيرا تحت رياست محترم ملا عبدالرزاق اخند وزير امور داخله جهت انجام مذاکرات دوستانه به کشور جمهوري اسلامي پاکستان رفته است در تداوم مذاکرات خويش با مسوولين بلند پايه آنکشور ديروز نيز با جنرال متقاعد محترم معين الدين حيدر وزير داخله آنکشور در حاليکه محترم ملا عبدالحميد اخند زاده رئيس کميسيون عالي امارتي مبارزه با مواد مخدر، سفراي هر دو کشور، مسوولين بلند پايه وزارت تجارت پاکستان، معين وزارت داخله آنکشور، سکرتر هاي لوي صوبه هاي صوبه سرحد و بلوچستان و قوماندان قطعات سرحدي صوبه سرحد و بلوچستان، مسوول امور گمرکي و مسوول امور افغانستان و اسياي ميانه در وزارت امور خارجه وعده يي از نماينده گان وزارت خانه هاي جمهوري اسلامي پاکستان نيز حاضر بودند در نشست وسيعي روي موضوع افغان ترانزيت مفصلاً بحث و تبادل نظر صورت گرفت که ص ٤

د ستری محکمی هيئت د هلمند محکمی وکتلی

د ستری محکمی واکمن او لوړ رتبه هيأت د هيلمند ولايت د ناد علی مارجی ناوی او د گرمسير د ولسواليو محکمی وکتلی او ددغو محکمو چاری يی په دقيقه توگه وڅيړلی.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د ستری محکمی لوړ رتبه هيأت د ستری محکمی د مقام د سلاکار محترم مولوی مير حبيب آغا په مشری چی په ترکيب کی يی د ستری محکمی تکړه قاضيان او جيد عالمان شامل دی پداسی حال کی چی د کندهار د تميز يو شمير عالمان او قاضيان هم ورسره دی د هيلمند ولايت د محکمو د کتنی په بهير کی ددغه ولايت د ناد علی مارجی ناوی او د گرمسير د ولسواليو محکمی و کتلی او ددغو محکمو چاری يی په دقيقه او هر اړخيزه توگه وڅيړلی او د قاضيانو د ورتيا تقوا او شهرت او له خلکو سره د قضايی پرسونل د چلند د څرنگوالی او ، مخ

د ختيځ زون د تنظيمه رياست مرستيال له شريعت اوونيزی سره په مرکه کی :

په ختيځ زون کی حالات ډاډمن دی

ستونزی له ولس سره په گډه حل کوو

ننگرهار - شريعت : سره له دی چی اوسنی وچکالی زمونږ د هيواد زياتی سيمی اغيزمنی کړی خو بيا هم امارتی چارواکی زيار باسی چی د خپلو ممکنه وسايلو په کاراچولو سره خلک د وچکالی له اغيزو څخه تر يوه حده پوری وژغوری. پورتنی خبری د ختيځ زون تنظيمه مرستيال ، مخ

امارت اسلامي هميشه با موسسات خيريه بين المللي همکاري نموده است

شاغلي ايرك ديمول ناظم کمك هاي بشري سازمان ملل متحد براي افغانستان

محترم مولوي عبدالرحمن زاهد معين وزارت خارجه قبل از ظهر ديروز در دفتر کارش با شاغلي ايرك ديمول ناظم کمك هاي بشري سازمان ملل متحد براي افغانستان ملاقات نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در اين ملاقات شاغلي ايرك ديمول از موقف اصولي امارت اسلامي افغانستان در رابطه به اجازه انتقال و توزيع مواد کمکي سازمان هاي خيريه بين المللي براي مردم نيازمند کشور بخصوص در مناطق مخالفين ابراز قدرداني نموده ص ٤

يوه اندازه لرغونی اثار تر لاسه شول

څلور ديرش قلمه لرغونی او تاريخی اثار په دی وروستيو وختو کی د کابل ښار له مربوطاتو څخه کشف او عامل يی نيول شويدی.

د باختر اطلاعاتی آژانس د کورنيو چارو وزارت د يوه خبر ځای له خولی خبر راکړ د کورنيو چارو وزارت له جنايی جرمونو سره د مبارزی د لوی رياست د کشف د عمومی آمريت د موظفينو د ص ٤

د کرني او مالداري وزير :

د ملخانو د له منځه وړلو لپاره بشپړ اقدامات شوی دی

د هيواد د شمال په سيمو کی د ملخو د برغل د اغيزو د بيخی له منځه وړلو په مقصد د کرنی او مالداری وزارت په اغيزمنو او گټورو اقداماتو لاس پوری کړيدی او له دی پلوه هيڅ راز اندېښنه نشته .

دغه ټکی د کرنی او مالداری وزير محترم ملا عبداللطيف منصور د باختر د اطلاعاتی ، مخ

امور امنيتي شهر کابل مورد غور و بررسي قرار گرفت

فعاليت هاي منسوبين بخش جنايي قومانداني امنيه و حوزه هاي دوازده گانه آن طي ماه گذشته مورد ارزيابي قرارگرفت .

اژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : هيأت موظف وزارت امور داخله تحت سرپرستي محترم مولوي صديق الله رئيس عمومي مبارزه با جرايم جنايي جهت رفع کاستي ها در ص ٤

په ايران کی د «هم ميهن» ورځپاڼه وتړل شوه

بي بي سي: لکه څرنگه چی په تيرو څو اونيو کی په ايران کی د اصلاحاتو پلوی زياتی ورځپاڼی په سملاسی توگه او پرته له څه ځنډ نه تړل شوی دی همدارنگه دايران د مطبوعاتو د محکمی له لوری د «هم ميهن» په نوم ورځپاڼی ته ليک استول شوی چی خپلی خپرونی بندی کړی. دغه کار د يو مخه نيوونکی اقدام په توگه ترسره شوی او په محکمه کی به وروسته وړاندی غور کيږی د ورځپاڼی په دفتر کی منابع وايی: د ورځپاڼی د خپرونکی پر ضد په دغه ليک کی د شپږو عريضه ، مخ

طي سال گذشته در ساحات جنوب و جنوب غرب کشور :

صفحه دوم

جمعا (۲٦٦,۷٥) متر مکعب گاز استخراج و مورد استفاده قرار گرفته است

تصدي کارخانجات جنگلك مبلغ ۱,۳۳۴ مليارد افغاني عوايد بدست آورده است

توليدات سمنت غوري به ٥٠ هزار تن بالغ گرديده است

گزارش : محمد سهيل «شاهين»

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

آباد او هوسا افغانستان د سيمی او نړی په گټه دی

نړيوالو به اوريدلی وی چی تيره ورځ د افغانستان د اسلامی امارت د کورنيو چارو د محترم وزير په مشری د بيلا بيلو وزارتونو يو لوړ رتبه پلاوی په تجارتی، مهاجرينو او ځينو نورو موضوعاتو باندی د خبرو اترو لپاره گاونډی هيواد پاکستان ته تللی دی که څه هم ددی هيئت د سفر پايله او لاس ته راوړنی په بشپړه توگه لا معلومی ندی خو ددا ډول تيرو سفرونو په هنداره کی ويلی شو چی ان شاء الله دا سفر به هم گټور وی او د هيواد والو د هوساينی لپاره به ښی پايلی ولری. که څه هم د تپل شويو جگړو له امله دا وخت د افغانستان د اسلامی امارت هميانی تشه او لاس تنگ ښکاری خو ورځی او شپی اوړی ، حالات بدليږی نيستمن هميش نيستمن او بډای هميش ، ۲ مخ

عـلمانن د ټـول اسلامی امت د نجات مسؤول دی

يواځی هغوی کولای شی چی ملت د اسلامی ترقی په لوری رهبری کړی

پکتيکا - شريعت : تيره ورځ د پکتيکا ولايت محترم والی مولوی عبدالروف «عارف» د اداری او امنيتی چارو د ښه سمون په منظور ددی ولايت د علماو د شورا د غړيو او ولسوالانو سره وکتل.

مولوی عبدالروف «عارف»

پدی کتنه کی د سيمی د اړونده موضوعاتو په اړه خبری وشوی او ولسوالانو د خپلو فعاليتونو رپوټونه وړاندی ، مخ

يگانه شکست صهيونيست ها مقاومت است

حماس

نماينده حماس گفت که رژيم صهيونستی فلسطين را به زور اشغال کرده است و آن رژيم بايد به زور از فلسطين اخراج گردد.

نمانده حماس طی مصاحبه گفت ديدار های اخير در فلسطين نشان ميدهد که يگانه راه شکست صهيونست ها مقاومت است در برخورد نيرو های اسرائيل با تظاهر کننده گان فلسطينی که از روز جمعه بدينسو ادامه دارد پنج فلسطينی در اثر تير اندازی سربازان اسرائيل شهيد و ده ها تن ديگر مجروح شدند.

در شهر هرات :

سلاحهاي غير مجاز جمع آوري و در تامين امنيت اقدامات مؤثر صورت گرفته است

هرات - شريعت : در شهر هرات تمام سلاحها و مهمات غير مجاز جمع آوري گرديده و در تامين امنيت در سرتاسر ولايت هرات اقدامات گسترده صورت گرفته است .

مطلب فوق را سرپرست قومانداني امنيه آن ولايت محترم ملا عبدالصمد به خبرنگار اعزامي شريعت طي مصاحبه اختصاصي اظهار داشتند ص ٤

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مــرستيــال : غلام محمد «فاروق»
ديوي گڼي بيه : په هيواد كي (۱۰۰۰) افغاني په پاكستان كی (۳) كلداری
پست بكس : (٤٧١) كابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱
توزيع او شكايات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مركز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

بدای نه وی او دا واقعیت دی چی افغانستان د طبعی زیرمو، کانونو د کرهنی ور مځکی سیندونو او چینو په درلودلو د داډول بډایو هیوادونو په لومړی لیکه کی ولاړ دی خو له بده مرغه چی تیرو رژیمونو له دی الهی پیرزوینو څخه د گټی اخستلو لپاره هیڅ کار نه دی کړی او اسلامی امارت هم په دی خاطر چی د ولس او اسلام دښمنان ورته په کمین کی ناست له شوق او رغبت سره سره تر اوسه په دی نه دی توانیدلی چی په کما حقه ډول د ولس او ملت هیلی خړوبی کړی.

افغانستان له دی طبعی زیرمو سربیره استراتیژیک تجارتی موقعیت هم لری چی له نوری نړی سره د منځنی اسیا د هیوادونو د ارتباط اسانه لاره هم گڼلی شی. خو اوس چی د جگړی اور افغانان له دی ټولو ویاړونو او عایداتی سرچینو څخه محروم کړیدی نو د یو بشر په توگه په عام ډول په بشری نړی او د یو بشر او مسلمان په توگه په خاص ډول په اسلامی نړی دا حق لری چی د دوی لاسنیوی وکړی. په افغانستان کی د غوایی له بد مرغی کودتاه څخه وراندی همداسی مجبوریتونه په نورو ولسونو او ملتونو هم راغلی دی چی افغانانو یی له خپل وس سره سم ځولی وړه که کړیده نړیوال دی یو ځل بیا دا واوری چی افغانان هیڅکله هم د چا نیکی نه هیروی او د یاد په تخته کی یی په زرینو کرښو انځوروی او نه هم د چابدل په ځان پریږدی هر چا چی نن په دی اړمنو شیبو کی افغانانو ته لاس ورکړ نو ان شاء الله چی افغانان به یی څو چنده بدل ورگرځوی له دومره یادښت او روښانتیا سربیره بیا هم باید وویل شی چی افغانستان لا هغه پړاو ته نه دی رسیدلی چی له اقتصادی پلوه تری نړی نهیلی او مایوسه شی او دلته هیڅ ډول تجارتی گټی ونه وینی. نړیوال وینی چی له پاکستان پرته ترکمنستان هم یو له هغو هیوادو څخه دی چی له افغانستان سره له ښو اړیکو څخه یی د معنوی گټی تر څنگ ډیری مادی گټی هم تر لاسه کړیدی او افغانستان یی د صادروونکو موادو لپاره تر ټولو غوره مارکیټ دی چی په دی ډول یی د افغانانو ځینی ستونزی هم تر یوه حده حل کړی او په خپله یی ښه گټه کړیده همدا راز افغانستان اوس هم د وچی او تازه میوی او پوستکو په څیر یو شمیر هغه صادرات لری چی نړیوال مارکیټ ورته سخت اړ دی د افغانستان گاونډیو او په ځانگړی ډول اسلامی هیوادونو ته په کار ده چی له دی چانس څخه گټه واخلی خپلی پانگی دلته واچوی، کانونه او طبعی زیرمی استخراج کړی، فابریکی جوړی کړی چی دا کار به د اقتصادی گټی تر څنگ د دواړو هیوادونو د مناسباتو په لا ټینگښت او پیاوړتیا کی هم ډیره مرسته وکړی.

دا اوس چی د افغانستان د اسلامی امارت لوړ رتبه هیئت پاکستان ته تللی دی هیله ده چی پاکستانی مقامات به د گټورو او ښو پایلو لرونکو خبرو له لاری دا هیئت ښه استقبال کړی. په دی کی شک نشته دی چی پاکستان له افغانانو سره په ستونزمنو شیبو کی ډیری مرستی کړیدی د هجرت او جهاد په شیبو کی یی په ورین تندی استقبال کړی دی، د روسانو او د هغوی د نوکرانو په ضد جهاد کی یی ورسره هر اړخیزه مرسته کړیده او تر اوسه یی ورته خپله غیږه خلاصه نیولی ده چی افغانان یی هم ممنون دی او هیله ده چی په افغانستان د ژوندانه د بشپړ شرایطو تر برابریدلو پوری خپله حوصله تنگه نکړی نړیوال خبر دی چی د تیرو جگړو له امله د افغانستان ټولی اقتصادی، کلتوری او ټولنیز بنسټونه نړیدلی دی. کرهنه او مالداری مو له صفر څخه پیل ده کار او عمل کم دی او په بشپړ ډول لا د مهاجرینو د راستنیدلو لپاره شرایط برابر نه دی نو د پاکستان او ایران هیوادونو ته په کار ده چی په دی وروستیو شیبو کی د افغانانو زړونه خفه نکړی او د مهاجرینو د ستنیدلو لپاره ښه آسانه، معقوله لاره دا ده چی د خپل هیواد په آبادی او بیا رغونه کی یی مرسته وشی د پردیو د لاسوهنو مخه ونیول شی دلته ورته د کار او ژوند زمینه مساعده کړلی شی چی په هغه صورت کی به ټول مهاجرین په ډیر کم وخت کی او په ډیره خوشحالی سره خپل وطن ته راستانه شی. او په دی خو هر څوک پوهیږی چی ارام، هوسا او آباد افغانستان د سیمی څه چی د ټولی نړی په گټه دی.

قرآن کریم یگانه هادی بشریت

مجیب الرحمن

با توجه به آیات ۲۱۳ سوره بقره، در ابتدا همه مردم یك امت بودند، یك طرز عمل و یك تصور زندگي بود، آیات اشاره به آن خانواده کوچك مي کند که مشتمل بر آدم، حوا و فرزندانشان بود. خدا به همین سبب زندگي انساني را با یك خانواده کوچك آغاز نمود چرا که در زندگي انساني، نظام خانواده اولین سنگ زیر بنایي آن را تشکیل مي دهد بعد از گذشت قرنها و سالها، رفته رفته تعداد شان افزوده شد، انسان ترقي کرد، بالاخره راهها و طرق مختلف زندگي را اختیار نمود، محاسن و خوبي هاي ارزاني شده در وي کم کم ظهور یافت.

بر مبناي قدرت در بین افراد اختلاف پیدا شد، جهت خواسته هاي آنها معین گردید و نظام زندگي شان مختلف شد. لذا انسانیت به اولین درجه از درجات زندگي گام نهاد، خدا براي بشارت و بیم دادن آنها انبیاء را مبعوث کرد، و به آنان کتاب هاي بر حقي را نازل کرد تا اختلافات بوجود آمده آنها را بر طرف سازند. اینجاست که یك حقیقت بزرگ به میدان مي آید و آن اینکه اختلافشان یك امر طبیعي است چرا که اختلاف یکي از اصول خلقت آنهاست در اثر همین اختلاف است که جامعه انساني به میان آمده، وسبب آن خدا انسان را افریده است که همان منصب نیابت و خلافت الهي بر روي زمین باشد، انسان براي انجام انواع و اقسام فرایض منصبي خود نیاز به افراد مختلف با قابلیت هاي گوناگن دارد که همه این افراد دست به دست هم داده تا نظام خلاقت را با هماهنگي و نظم خاص به پایه اکمال برسانند لذا ضروري است که براي ادا این فریضه بزرگ الهي، صلاحیت هاي مردم مختلف باشد و داراي استعداد هاي گوناگون باشند آري مردم همیشه مختلف هستند، بجز کساني که خدا بر آنان ترحم نموده و براي همین اختلاف آنان را آفریده است.

در نتیجه اختلاف فرایض و قابلیت، اختلاف افکار بوجود مي آید، تقاضا عوض میگردد و بالاخره روش کار و نظام زندگي گوناگون مي شود خداوند خود مي خواهد تا اندازه اي این اختلاف باشد. نام دایره وسیعي که همه اختلافات باید در داخل آن باشدن: کنترول و اداره گردند بالاخره جهت داده شوند چیست؟ این دایره تصور ایماني است، آنچنان وسیع است که افراد با استعداد هاي مختلف، نیروي مختلف و قابلیت هاي مختلف، مي توانند با هماهنگي کامل همدوش و همگام مشغول کار شوند. تصور زندگي ایماني، اختلافات فطري را از بین نمي برد و ان را قتل عام نمي سازد بلکه به ان سازمان دهي بخشیده و چهره شان را به سوي شاهراه اصلاح و ترقي متوجه مي سازد، در این حالت باید معیاري باشد تا مردم در صورت تصادم و برخورد و اختلاف به طرف آن رجوع نمایند.

قاضي عادلي لازم است تا سخني را بگوید که دیگر از تکرار کلام طرفین جلوگیري نماید، و در آنها ذوق یقین را با این کار خویش ایجاد کند. بر همین مناسبت که خدا«ج» پیامبراني را مبعوث کرد که بیم دهندگان و بشارت دهندگاني هستند که به آنان کتاب هاي به حقي را عنایت کرد تا در مورد آنچه مردم در باره، آن اختلاف دارند قضاوت نمایند.

«بالحق» در اصل امر فیصلي است که به ما مي فهماند که حق همان است که رد کتاب الله مي باشد، به این خاطر به قرآن حق گفته مي شود چرا که دیانت دار منصف تصورات مختلف، روش هاي کار مختلف و ارزش هاي گوناگون است و آخرین محل فیصله، تمام اختلافات همین مقام است، بجز آن هیچ راستي را نمي توان یافت و در موازات آن نمي توان منصف دیگري را پیدا کرد، بعد از سخن وي سخني دیگر وجود ندارد، حق یك است ولا شریك.

بدون آن تمام اختلافات و نظریات ماشین زندگي نمي تواند در شاهراه هدایت گامزن شود و بدون تدبیر آن، به انسانیت امن و سلامتي نخواهد رسید اختلاف شدید مردم هرگز حل نخراهد شد و خاتمه نخواهد یافت.

سرچشمه، تصورات و قوانین حیات انسانها کجاست؟ قبل از تعیین سرچشمه تصورات و قوانین حیات انسانها باید قرآن را تسلیم کرد که آخرین کتاب آسماني و قاضي در حل اختلافات انساني است و نیز به این مطلب باید اذعان داشت که دویي را نمي پذیرد، خدا این کتاب را نازل کرد و با حق در یکجا نازل نمود، یك منبع است، تعدد در آن امکان پذیر نیست، آن منبعي است که از همان جاي نزولش، فیصله کننده امور اختلافي است و معیار حق، این کتاب از نظر ماهیت یك کتاب است همه انبیاء آن را گرفته با خود آورده اند، بنا بر این تمام کتاب هاي آسماني یك کتابند و تمام ملت ها یك ملتند و تصررات حیات این کتاب ها و انبیاء در اصل یکي است، یك خدا، یك معبود و براي تمام انسانها یك قانون ساز، اما بر اساس ادوار مختلف، ملل و نحل مختلف روش هاي زندگي مختلف، در احکام جزیي و تفصیلي قدري فرق وجود دارد.

کوتاه سخن اینکه قرآن کریم، صحیح ترین نقطه نظر اسلامي تمام نظریات و عقاید انساني است. هر نبي یك دین را آورد که مشتمل بر چند عقیده بنیادي یعني عقیده توحید بود اما هرامت بعد از مرگ نبي اش، رفته رفته از اصل دین کناره گیري نمود به گونه اي که انبار هایي از روایت هاي غلط و بي اساس بوجود آمد که اصل دین در زیر آن مدفون گشت در اینجاست که نیاز به نبي جدید محسوس مي گردد.

آري نبي جدید مي آید، اسلام را دو باره مي آورد و انبار ها و توده هاي خرافات، شرك و انحرافات را کنار مي زند و مطابق با حالات مردم، خداوند براي آن قوم قانوني را هدیه مي سازد. بعضي از دانشمندان غیر مسلمان، وقتي از تاریخ مذاهب و عقاید بحث مي نمایند منبع تحقیقاتشان اینگونه است که تعلیمات هر نبي را از نبي گذشته جدا ساخته و قایل به نظریه ارتقاء هستند عده اي از محققین مسلمان نیز تحت تاثیر این روش قرار گرفته نا خود آگاه قایل به اصل تغییر و تبدیل در عقاید و نظریات هستند. اصل تصور ایمان خراهان و طالب نظریه ثبات و تسلسل است و مقصد نزول کتاب نیز همین چیز مي باشد.

طي سال گذشته در ساحات جنوب و جنوب غرب کشور:

جمعا (۲٦٦,۷٥) متر مکعب گاز استخراج و مورد استفاده قرار گرفته است

تصدي کارخانجات جنگـلک مبلغ ۱,۳۳۴ ملـیارد افغـاني عواید بدست آورده است

تولیدات سمنت غوري به ٥۰ هزار تن بالغ گردیده است

گزارش: محمد سهیل «شاهین»

طوریکه معلوم و آشکار است، وزارت معادن و صنایع از جمله وزارت خانه هاي است که در بخش هاي صنایع و معادن در کشور رسیدگي نموده و فابریکات و پروژه هاي مربوط آن تقریباً در سراسر کشور موجود است ضمناً هویدا و آشکار است که اکثر این موسسات و پروژه ها در زمان حکومت کمونیست ها و جنگ هاي تنظیمي خساره منذ گردیده و اکثریت دارایي هاي آنها از بین رفته است طبعاً احیا و باز سازي فابریکات و پروژه هاي در حال رکود مستلزم زمان بیشتر و طولاني بوده و ایجاب مصارف گزاف مالي را جهت تهیه و تدارك سامان آلات و پرزه جات و تجهیزات مي نماید. بناً وزارت معادن و صنایع از ابتدا پیروزي طلباي کرام و بر قراري حاکمیت واقعاً اسلامي در پرتو شریعت غراي محمدي «ص» سعي ورزیده تا هریك از مؤسسات و پروژه ها را با در نظر داشت امکانات مالي و تخنیکي مجدداً فعال سازد چنانچه بالاثر همین سعي و تلاش دستاورد هاي نیز داشته که ذیلاً ارائه مي گردد:

۱- صنایع نفت و گاز:

وزارت معادن و صنایع از بدو پیروزي طلباي کرام در تلاش این بوده تا از منابع و ذخایر نفت و گاز استفاده اعظمي و مثمر بعمل آید چنانچه در سال ۱٤۱۹ هیئت عالي رتبه وزارت معادن و صنایع مذاکراتي را پیرامون تفحص و اکتشاف ذخایر نفت و گاز در ساحات جنوب غربي و غربي کشور با کمپني یوناني بعمل آورد و این مذاکرات ادامه دارد. ضمناً بمنظور تحقق پروژه تمدید پایپ لین گاز از جمهوري ترکمنستان به جمهوري اسلامي پاکستان از طریق خاك افغانستان هیئت هاي عالي رتبه امارت اسلامي به کشور هاي مذکور سفر نموده و در جلسات نمایندگان آن کشور ها اشتراك ورزیده که نتایج سودمندي را در قبال داشته است. در حال حاضر استخراج گاز طبیعي جهت تامین مصارف فابریکات کود و برق، نساجي بلخ و تنویر و تسخین ولایات جوزجان و بلخ ادامه دارد چنانچه در سال ۱٤۲۰ جمعاً به مقدار ۲٦٦.۷٥ ملیون متر مکعب گاز استخراج و مورد استفاده مراجع فوق قرار گرفته است. ضمناً تدابیر و اقدامات معین جهت حفظ و مراقبت چاه هاي تحت استخراج و در حال تفحص و اکتشاف اتخاذ شده است.

۲- صنایع فلزي

تصدي کارخانجات جنگلك منحیث یگانه موسسه مفید تولید محصولات فلزي فعالیت داشته که این موسسه نیز بالاثر وقوع جنگ هاي تنظیمي صدمات را از درك مالي و تخنیکي متقبل شده و کاملاً از فعالیت باز مانده بود ولي با پیروزي طلباي کرام مخصوصاً در سال گذشته دستگاه هاي ریخته گري فلز کاري فابریکه دو باره فعال شده و تقریباً به تعداد ۷۷ پایه ماشین الات مختلف النوع از موسسات امارتي و شخصي جمع آوري و به فابریکه منتقل و مجدداً منتاژ شده است که از مدرك فعالیت هاي تصدي جمعاً مبلغ تقریباً ۱.۳۳٤ ملیارد افغاني در سال ۱٤۲۰ بدست امده و فعلاً تصدي بشکل انتفاعي فعالیت دارد ضمناً بخاطر احیاي مجدد ساختمانهاي فابریکه قرار داد ترمیمات فابریکه با دستگاه هاي داخلي ساختماني عقد شده که کار آن عملاً آغاز یافته و مساعي در جهت تمدید شبکه برق آن جریان دارد.

۳- صنایع مواد ساختماني:

بمنظور استخراج و بهره برداري معادن مواد ساختماني قرار داد هاي جداگانه با متشبثین داخلي در قسمت اجاره معادن گرومیت لوگر و خوست، رخام هلمند، ابرك، گچ و چونه و سایر محصولات مواد معدني بعمل آورده که فعلاً استخراج از آنها ادامه دارد. تولیدات سمنت غوري ادامه داشته و چنانچه در سال ۱٤۲۰ بمقدار ٥۰ هزار تن سمنت و ٥۲.٥ هزار تن کلنکر تولید گردیده است. فابریکه مرمر و رخام جهت تولیدات محصولات صنایع ساختماني مجدداً با دو تن متشبث داخلي به سهم ٥۱ فیصد امارت و ٤۹ فیصد قرار دادیان عقد پوتوکول شده چنانچه کلیه ضروریات برق آن تهیه و شبکه برق آن ترمیم شده ضمناً سامان آلات و پرزه جات مورد نیاز دستگاه ها از خارج تهیه شده و عنقریب فابریکه بفعالیت آغاز مي نماید.

قابل تذکر است که جهت آغاز فعالیت مجدد فابریکه سمنت هرات تماس هاي با جانب کشور چك صورت گرفته و اخیراً یك هیئت از آن کشور جهت بازدید فابریکه به ولایت هرات سفر نموده و نتایج بازدید خود را غرض اتخاذ تصامیم تصدي با خود به کشور چك انتقال داده است در پهلوي آن مذاکراتي پیرامون اعمار یك فابریکه جدید سمنت در شهر کندهار جریان داشته چنانچه اخیراً یك هیئت عالي رتبه وزارت معادن و صنایع جهت انجام مذاکرات با هیئت چینایي نیز دیدار نموده است. مشکل اساسي در قسمت تکمیل امور باقي مانده ساختمان و مونتاژ فابریکات سمنت هرات و غوري دوم همانا مشخص نبودن موقف جانب چك بوده که با وجود تلاش هاي رهبري نتایج مثبت تا الحال حاصل نگردیده است.

٤- صنایع جن و پرس ها:

تصدي هاي سپین زر کندز جن و پرس بلخ و جن و پرس بست شامل این بخش بوده که بمنظور فعال شدن تصدي سپین زر کندز بلخ با دو تن متشبث داخلي قرار دادي صورت گرفته که عملاً فعالیت موسسات یاد شده آغاز یافته است، تصدي جن و پرس بست نیز فعال بوده که در سال ۱٤۲۰ تولیدات پخته محلوج ۲٦٥۰ تن، روغن ۸۱۸ تن، صابون ۸۱۸ تن، کنجاره ۱٥۹ تن، و پوستك ۱۰۰ تن مي باشد.

پرابلم عمده در ساحه صنایع جن و پرس ها فرسایش ماشین الات فابریکات مذکور است که طبعاً تعویض مجدد آن مستلزم وجوه هنگفت مالي است. ادامه دارد

در هشتم ثور گروهي بنام (سازمان انقلابي زنان افغانستان) يا (راوا) با برپايي تظاهراتي پيروزي جهاد ملت مسلمان افغان بر كمونيسم را تقبيح نمود و بعداً نيز يك سازمان فرانسوي با دادن جايزه به اين سازمان از فعاليت هاي آن تقدير نمود.

اين گروه چگونه بوجود آمده و چه اهدافي را دنبال مي نمايد؟ اين نوشته تلاشي است در جهت روشن نمودن همين موضوع و چهره كريه اين گروه .

(شريعت)

۳ سخنی درباره مائوئیست ها و (راوا)

(رهائي) بر سر چند راهي!

در سال ۱۹۸٤ م سازمان رهايي مواجه با مشكلات بزرگي گرديد. چينايي ها كمك سالانه يكصد هزار دالر و همچنان كار تربيت نظامي اعضاي اين سازمان را متوقف ساختند. دولت پاكستان هم فشار هايي را به آنها اعمال نمود. در اثر اين مشكلات سازمان رهايي بر سر يك چهار راهي قرار گرفت :

۱- با وجود مشكلات موجود با استفاده از شرايط دست داشته فعاليت خود را به شكل محدود ادامه دهد.

۲- از كمونيزم دست بردار و بسوي اسلام رو آورد.

۳- بسوي غرب رو آورده و بجاي ديكتاتوري پرولتاريا پرچم سوسيال ديموكراسي و ليبراليزم را بلند كند.

٤- با روسها به توافق برسد .

از آنجا كه سازمان رهايي از كمونيست هاي بسيار متعصب تشكيل شده بود در اواخر سال ۱۹۸۵ سر انجام راه آخر يعني توافق با روسها و اتحاد با اشغالگران افغانستان را پذيرا شد و روسها هم از اين مزدوران تازه دم بخوبي استفاده كردند. بعد از اين توافق ميان روسها و سازمان رهايي، سازمان رهايي به رهنماي (خاد) به يكي از اعضاي خويش انجنير عبدالصبور صالح كه در نورستان غربي زندگي ميكرد توسط يك عضو ديگر خويش ضابط فصيح الدين خبر داد كه براي تقويت يك اجنت خطرناك خاد (سرور نورستاني) درين منطقه بايد قوماندان مولوي صاحب خالص حاجي محمد الله و انجنير شير محمد قوماندان حزب اسلامي حكمتيار را ترور كند. حاجي محمد الله بدست آنان بتاريخ ۲۷ جولاي ۱۹۸٦ به شهادت رسيد اما انجنير شير محمد موفق شد تا توطئه هاي ترور خود را خنثي نمايد. خدماتي كه سازمان رهايي به روسها درين دوره انجام داد بيشتر در سهم گيري آنان در ترور شخصيت هاي جهادي و قوماندانان بارز مجاهدين بود.

جمعيت انقلابي زنان تامين كننده مهم مالي سازمان رهايي :

در دوران جهاد جمعيت انقلابي زنان افغانستان با فعاليت هاي ظاهراً بشر دوستانه و خيريه موفق گرديد تا مليونها دالر از موسسات كمك دهنده خارجي بدست آورد اين عوايد به مصرف فعاليت هاي ضد جهادي سازمان رهايي مي رسيد : بطور مثال و نمونه به يك مورد اشاره مي شود :

درين دوران در كواري رود كويته جمعيت انقلابي زنان يك دستگاه خياطي با ده پايه ماشين داشت. زنان شاغل درين دستگاه زنان رهبران سازمان رهايي بودند. اين دستگاه براي كمك به زنان فقير و مهاجر بوجود نيامده بود بلكه هدف از آن جلب كمك موسسات خارجي براي تمويل سازمان رهايي بود.

آنها لباس هاي خامك دوزي را كه بوسيله زنان مهاجر در كمپ ها دوخته مي شد به قيمت نازل خريداري ميكردند و بعد بنام اينكه اين دست دوزي ها حاصل كار همين دستگاه است آنرا به قيمت بلند بالاي يك موسسه امداد خارجي بنام (انتر ايد) بفروش مي رسانيدند.

مستر (بي شاپ) رئيس موسسه (انتر ايد) گمان مي كرد كه از اين طريق به زنان مهاجر و بي بضاعت افغان كمك مي كند در حاليكه مليونها دالر مفاد اين تجارت به صندوق سازمان رهايي سرازير مي شد و اين تجارت سالها ادامه يافت.

وسيله ديگر جلب كمك موسسات امداد خارجي براي جمعيت انقلابي زنان و سازمان رهايي مكتب (وطن) در كويته بود. اين مكتب در سال ۱۹۸۳ در ابتدا براي تربيت اطفال اعضاي سازمان رهايي تاسيس شد و بعداً دامنه كار آن وسعت گرفت . گردانندگان اين مكتب همه از اعضاي طراز اول سازمان رهايي در كويته بودند و بعداً بخش اناث نيز به اين مكتب علاوه شد.

سيستم تعليم و تربيت اين مكتب طوري عيار گرديده كه جوابگوي نياز هاي كادري سازمان رهايي در طويل المدة باشد . اطفال اعضاي سازمان رهايي از همان ابتدا مخالف با اسلام و ارزش هاي ديني تربيه ميشوند و درين رابطه مشكلي وجود ندارد اما در مورد اطفالي كه خانواده هاي شان كاملاً مورد تاييد سازمان و جمعيت زنان قرار ندارد از همان دوران جهاد روش كار طوري بود كه بجاي مخالفت مستقيم با جهاد مخالفت با مجاهدين و تنظيم هاي جهادي به آنان تلقين مي شد. تلقين چنين باور ها در فضا و جو آنروز جهاد طبعاً مترادف با مخالفت با ارزش هاي اسلامي بود و به اين ترتيب طفل رفته رفته با همين روحيه عادت مي كرد .

جمعيت انقلاب براي تربيت زنان و دختران جواني كه مهاجر مي شدند و با اين جمعيت رابطه مي گرفتند پروگرامهاي ديگري داشت . بصورت كلي اسلام براي آنان بعنوان يك عقيده سراپا خرافات و حامي جهل و تعصب و دشمن زن و مخالف با ازادي تصوير ميشد (العياذ بالله)

جمعيت انقلابي زنان و ارزش هاي اخلاقي :

از نظر رهبران سازمان رهايي مسايل اخلاق، شرافت و ناموس ارزش هاي نظام طبقاتي است كه با تغيير فرهنگ جامعه اين مفاهيم نيز بايد تغيير كند براي درك بهتر همين مطلب به مثالهاي ذيل توجه كنيد :

داكتر صمد «دراني» يكي از اعضاي سازمان رهايي چند سال قبل در پشاور اختطاف شد و طبق معمول آن دوران حزب اسلامي حكمتيار به اختطاف وي متهم گرديد. رهبري سازمان رهاي به پدر داكتر صمد مشورة داد تا به دولت پاكستان عارض شود و دعوا را بصورت قانوني پيش ببرد. براي موثريت بيشتر دعوا(عبيد) يكي از رهبران سازمان به پدر داكتر صمد مشوره داد تا دختران خود را به خانه هاي مقامات مختلف دولت پاكستان بفرستد.

پدر داكتر صمد كه يك افغان با غيرت و با ناموس بود بشدت درين مورد عكس العمل نشان داد و گفت كه اگر (صمد) به اين شكل پيدا مي شود هرگز پيدا نشود. وقتي عبيد از نزد پدر داكتر صمد برگشت به وي فحش و دشنام ميداد و مي گفت كه : « دختران تو چي ارزشي دارند مهم اينست كه داكتر صمد پيدا شود. لعنت بر اين فرهنگ پوسيده» .

بعد از آن اين وظيفه را به خواهران كشور كمال (فهيمه و زهرا) سپردند و آنها درين راه با تمام توان خويش كوشش كردند.

(عبيد) روزي براي اينكه كمونيست بودن خود را نشان بدهد اشاره به (پروانه) خواهر زاده، جوانش مي كند و ميگويد : اگر به پايمال شدن عفت اين دختر به كار سازمان رهايي سودي عايد شود در آنصورت من از آن دريغ نمي كنم. روزي از محبت مادر پروانه نسبت به اعضاي سازمان رهايي ياد آورد مي شود و ميگويد : اگر اين بيچاره بداند كه براي سازمان سودمند است و من برايش بگويم با اين پيچه، سفيد خود حاضر است وسيله ارضاي شهوات جنسي قرار بگيرد.

بنا بر اين مي بينيم كه جمعيت انقلابي زنان نه تنها وسيله يي براي بدام انداختن جوانان در يك سازمان كمونيستي است بلكه در صورت لزوم زنان عضو اين جمعيت در راه اهداف سازمان رهايي از فحشا ابايي نداشته اند.

چنين ماهيتي از اين سازمان منحرف موجب گرديد كه در غرب نيز عده يي با آن هم آواز و همراه گردند اكنون جمعيت انقلابي زنان افغانستان با ظاهر مستقل خويش فرياد هاي ديموكراسي و آزادي زن سر ميدهد شعار هايي كه در غرب از كشش و جاذبه برخوردار است . دشمني آنان با اسلام و جهاد بحدي است كه علناً سالروز شكست كمونيست ها در افغانستان را روز سياه مي خوانند و در غرب نيز اين شعار هاي آنان به گرمي مورد استقبال قرار مي گيرد.

اگر آنها گمان برده باشند كه با چنين نيرنگ هايي قادر خواهند بود به چشم ملت خاك بپاشند و ماهيت اصلي خود را پنهان كنند اشتباه كرده اند. ملت ما مائويست ها را مي شناسد. جمعيت انقلابي زنان را و (راوا) را ...

پايان

د افغانستان په هکله د امریکی غلط سیاسی دریځ

که چیری د امریکی چارواکو د روانو واقعیتونو پر بنسټ د امریکی دریځ د افغانستان په هکله سنبال او جوړ کړی وای اوس به دننه په افغانستان کی د جګړو لړی پای ته رسیدلی وی او د افغانستان مجاهد او مظلوم ولس به د بشپړی سولی او ارامی شپی ورځی تیرولی .

په خواشینی سره باید وویل شی چی د امریکی چارواکی او هغه ماهران چی د افغانستان سیاسی، کلتوری، اجتماعی او نظامی چاری تحلیلوی او خپل راپوروړنه مسوولو مقامونو ته وړاندی کوی یا د افغانستان په برخه کی واقعیتونه نه شی لیدای او یا دا چی د دوی احساس او څیړنی د افغانستان په برخه کی د تعصب او تنګ نظری څخه ډکی دی. دا خبره هم باید په ډاګه وویل شی چی ځینی افغانان چی د شوروی اتحاد پوځی برغل سره سم چی په ۱۹۷۹ کال کی پیل او د یوی لسیزی په ترځ کی یی د افغانستان د خلکو ژوند د ډیرو کړاوونو سره مخامخ کړ امریکایی هیوادونو ته کډوال شوی دی او اوس یی هلته ژوند غوره کړی او ددی شلو کلو په تیریدو سره د افغانستان د سیاسی، پوځی او ټولنیزو چارو نه بی خبره پاتی شوی دی.

ددغو کډوالو افغانانو په منځ کی ډیر داسی کسان لیدل کیږی چی بایی اسلامی معتقدات کمزوری دی او یا دا چی د خپل سپیځلی افغانی کلچر څخه پردی پاتی شوی او یا دا چی د لویدیزی نړی د مادی ژوند تر اثر لاندی راغلی او ټول ملی او انسانی معیارونه د مادیاتو په تله او چال چلند کی وینی. ددغو افغانانو په ډلو کی چپی عناصر یا هغه کسان چی د اسلامی بنسټونو سره یی روغه جوړه نده او یا دا چی د افغانی کمونیستی لاس پوڅو سره یی انډیوالی ده، هم ګډون لری. د دوی په منځ کی داسی کسان هم لیدل کیږی چی د شخصیت د کمزورتیا سره مخامخ دی او ملی احساس په کی وژل شوی دی.

امریکایی چارواکو یو شمیر کمزوری او په پیسو مین افغانان په خپلو ډیرو دفترونو او په خاص ډول سره په استخباراتی چارو کی استخدام او ګمارلی دی. دا هغه کسان دی چی د افغانستان چاری څیړی او خپل راپورونه امریکایی چارواکو ته وړاندی کوی. دا خرڅ شوی افغانان په امریکا کی هغو خلقی، پرچمی او ستمی افغانانو ته ورته دی چی د روسانو لپاره یی راپورونه جوړول او روسان یی هڅول چی د افغانستان په چارو کی ګوتی ووهی او لاسی پوځی نظامونه په افغانستان کی را منځ ته کړی.

د تاریخ په شهادت سره باید وویل شی چی د روسانو د غلطو څیړنو او هم د هغوی د ګوډاګیانو او لاس پوڅو استخباراتی جاسوسانو د دسیسو په نتیجه کی د شوروی اتحاد سرو لښکرو پر افغانستان را ودانګل مګر دا یرغل نه یوازی د افغانستان د میړنیو مجاهدینو د سپیځلی جهاد او ملی مقاومت سره مخامخ شو بلکی د بشپړی ناکامی په نتیجه کی د شوروی اتحاد ۷۵ کلن کرغیړن الحادی نظام ړنګ شو او ډیر نوی خپلواک هیوادونه په مرکزی اسیا کی د لومړی ځل لپاره خپلواک شول او هم ختیځه اروپا کی ډیر هیوادونه د شوروی اتحاد د ظلم له منګو او انحصار څخه خلاص شول.

عبدالقیوم «کوچي» له امریکا

امریکایی چارواکو ته پکار ده چی د تاریخ د پیښو څخه عبرت واخلی او د شوروی اتحاد پرزیدل او تباهی چی د شوروی اتحاد د ناپوهو سیاسی ماهرانو او د هغوی د لاس پوڅو د غلطو راپورونو په نتیجه کی پیښ شول د افغانستان د واقعیتونو په نظر کی نیولو سره هیر نه کړی او د افغانستان په برخه کی غلط او کمزوری دریځ غوره نکړی .

د امریکی د سیاسی نظام په جوړښت کی د خپلواکی او دیموکراسی معیارونه لوړ مقام لری. ددی خبری مانا دا ده چی د امریکی د اساسی قانون بنیادی ټکی د خپلواکی، ټولنیز عدالت او د یموکراسی پر بنسټونو عیار او جوړ شوی دی.

البته دا خبره هم باید وویل شی چی دا دیموکراسی او خپلواکی او ټولنیز عدالت مفاهیم او تعبیرونه د امریکی د کلچر او د امریکایی ټولنیز او سیاسی ژوند په محور کی له یوی خوا او لویدیزی نړی د سیاسی او فرهنګی کلچر په بڼه کی له بلی خوا په امریکی کی روزل شوی او د خلکو لخوا منل شوی دی. د امریکی د خلکو د سیاسی کلچر سره سم دیموکراسی ، خپلواکی او ټولنیز عدالت هغه وخت په یوه هیواد کی په تدریج سره پلی کیدای شی چی د یوه هیواد خلک د خپل ملی پاڅون او ملی مقاومت په نتیجه کی لومړی یو خپلواک نظام جوړ کړی او بیا د دیموکراسی او ټولنیز عدالت په رڼا کی د خپلو خلکو د هیلو سره سم خپل سیاسی او ټولنیز ژوند سنبال او مضبوط کړی . په بل عبارت د یوه هیواد د غوڅ اکثریت د هیلو او غوښتنو سره سم لومړی باید د خلکو په منځ کی خپل منځی جګړی پای ته ورسیږی او بشپړه سوله راشی او خلکو ته د دوی مدنی حقونه ورکړل شی. د ښځو عزت او عفت خوندی شی او د غلو او تیری کوونکو مخه ونیوله شی او د قانون په رڼا کی د غریبو، بیوزلو او شتمنو په منځ کی توپیرونه له منځه ولاړ شی. دی کی شک نشته چی د امریکی په ټولنه کی ټول وګړی د قانون په مقابل کی برابر حقونه لری او مدنی او ټولنیز او نور بیلا بیل قوانین په ظاهره کی په ټولو یو شان پلی کیږی مګر په عمل کی هیڅکله دا اصل د تطبیق وړ ندی. د امریکی په ټولنه کی یو شتمن کولای شی چی د پیسو په زور ډیر پاخه وکیلان په کار واچوی او په محکمی کی خپل حقونه خپل کړی او یا دا چی د کمزوری او مسکین حریف او دښمن په مقابل کی دعوا وګټی. په امریکی کی اوسنی روانه دیموکراسی د دووسوو کلو په تیدریدو سره دغه پړاو ته رسیدلی ده خپل منځی جګړی هم په دی هیواد کی ډیری پیښی شویدی او ډیر بی وزلی سپین او تور امریکایان په کی وژل شوی دی. سره له دی چی د امریکی په اساسی قانون کی ددی هیواد ټول اتباع د قانون په وړاندی برابر دی او یو د بل سره توپیر نلری مګر هغه ژوند او هغه ښیګنی چی سپین امریکایان تری برخورداره دی تورو امریکایانو ته نه دی ورپه برخه شوی.

د امریکي د جوړښت په ټول تاریخ کی یو تورپوستی امریکایی هم نه د جمهور رئیس او نه د هغه د مرستیال په توګه انتخاب شوی پوتکی امریکایان په ډاګه سره وایی چی د امریکی سیاسی او فرهنګی نظام د تبعیض او توپیر پر بنسټ را منځ ته شوی دی داسی وختونه هم د امریکی په هیواد کی تیر شوی دی چی تور پوتکو امریکایانو نشوای کولای چی د سپین پوتکو امریکایانو سره په یوی مدرسی او یا پوهنتون کی په ګډه سره زده کړه وکړی . تور پوتکو ماشومانو نشوای کولای چی سپین پوتکو ماشومانو سره په یوه موټر کی سپاره شی او یا په یوه رستورانت کی یو ځای سره کښیني او ډوډی وخوری. د امریکی په ډیرو ښارونو کی تر اوسه هم داسی کلبونه او رستورانونه شته چی تور پوتکی امریکایان ورتلای نشی او یا نشی کولای چی غړیتوب یی تر لاسه کړی . تبعیض او ټولنیز توپیرونه د کار او د دفتر په ځایونو کی هم ډیر لیدل کیږی.

په دی لیکنه کی هدف دا نه دی چی د امریکی په سیاسی او فرهنګی نظامونو څه ولیکل شی او د هغو کمزوری اړخونه بیان شی. هر هیواد د خپل ټولنیز او سیاسی چاپیریال په لرلو سره د ژوند مثبت او منفی اړخونه لری دلته اصلی مقصد دا دی چی د امریکی د ټولنیز او سیاسی نظام د معیارونو سره سم چی ګواکی د دیموکراسی پر بنسټ ډرول شوی دی د هغو په رڼا کی د نورو هیوادو د ولسونو غوښتنو او ضرورتونو ته پاملرنی وشی. له همدي اصل سره سم په افغانستان کی د شلو کلو په ترځ کی د افغانستان پر مومنو خلکو ډیر کړاوونه او غمونه راغلل او بیلا بیل سیاسی نظامونه د افغانستان پر خلکو وروتپل شول. مګر خلک د خپل اسلامی او ملی هویت په لرلو سره د ټولو په مقابل کی راپورته شول او د قربانیو او سر ښندنو له لاری یی د خپل اسلامی او ملی هویت په ساتلو کی هلی ځلی وکړی. اوس چی په سلو کی نوی فیصده خاوره او خلک د اسلامی امارت ملاتړ کوی او ددی نظام په ساتلو کی بیا تر هر څه تیریږی . آیا دا د امریکی د دیموکراسی د بنسټونو سره چی د ولس د هیلو او ارمانونو او ضرورتونو په بنا یو سیاسی نظام را منځ ته کیږی سمون خوری ؟ اوس د افغانستان خلکو د خپلو اسلامی او ملی اړتیاوو او غوښتنو په رڼا کی ژمنه کړی چی د اسلامی امارت په چاپیریال کی خپل سیاسی، فرهنګی او اقتصادی ژوند جوړ او سنبال کړی آیا دلته همدغه د دیموکراسی اصل چی د خلکو اراده او ملاتړ دی په ډاګه سره د افغانستان د سیاسی ، فرهنګی او پوځی چاپیریال ښکارندوی نه دی ؟ امریکایی چارواکی په نړیواله سطحه سره د امریکایی بنسټونو چی د یموکراسی او ټولنیز عدالت خپرول دی غوښتنی کوی او غواړی چی دغه اصول د هر هیواد د فرهنګی، اجتماعی تاریخی او سیاسی واقعیتونو او هم د ولسونو د غوښتنو او اړتیاوو په رڼا کی پلی شی. آیا امریکایان نه وینی او یا پوه شوی ندی چی د افغانستان خلکو اوس خپلی سیاسی او فرهنګی لاری ټاکلی او هیله مند دی چی خپل سیاسی نظام د اسلامی امارت تر لارښوونی او مشری لاندی مضبوط او بشپړ کړی امریکایی واکداران او هغه امریکایی چارواکی چی د افغانستان په برخه کی تر څیړنو وروسته سیاسی پریکړی کوی پوهیږی چی د افغانستان په خلکو باندی په دی دوولسیزو کی ډیری لوړی ژوری پیښی راغلی او د افغانستان میړنی خلک له دغو پړاونو څخه د ډیرو سرښندنو په ورکولو سره تیر شوی دی .

نوربیا

راغلی لیک

د کابل ښاروالی د پاملرنی وړ

د شریعت اونیزی محترمی اداری ته !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته !

د لوی خدای عزوجل نه په خپلو کارونو کی درته لاډیر توفیق غواړو او پس له سلامه هیله ده زما دا څو کرښی په خپله جریده کی خپری او مسولینو ته ورسوی.

څرنگه چی سږکال بارانونه نشته او هوا ورځ په ورځ تودیږی چی په دی سره د ډول ډول ناروغیو د زیاتیدو هم ډیر احتمال دی او له بلی خوا زموږ یو شمیر هغه ورونه چی د شنیلیو او تازه سبو په خرڅلاو بوخت دی، هیڅکله دی ته نه دی متوجه چی د پاکوالی د نه مراعاتولو او په ډیرو مردارو خچنو او بوسره د میوو، شنیلیو او تازه سبو مینځللو سره بی خپلو هیوادوالو ته څومره زیان رسیږی او زموږ د کریدلو ښاریانو د څومره ناروغیو او ځوریدنو باعث گرځی او لگیا دی د ښار په بیلا بیلو برخو کی د پلیتو لښتیو په غاړه تازه میوی او سابه مینځئ نو په کار ده چی د ښاروالی مسوؤلین دغه ناوړه عمل ته متوجه او د اوړ خلک د قانون منگولو ته وسپاری . همدارنگه یوه بله خبره دا ده چی ځینی اړوندی اداری د سړکونو تر څنگ لښتی پاکوی او خاوری خځلی بی په خواکی اچوی خو لږ شیبه وروسته چی کله د سړکونو جاروکښان راورسیږی نو دغه خاوری خځلی بیرته هماغو لښتیو ته وروغورځوی او بله ورځ بی بیا را باسی او بیرته ورغورځول کیږی نو لازمه ده چی دا شیان په خپل وخت راټول او له ښاره بهر یووړل شی چي دا به د ښار په صفایی ، ښکلا او نظافت کی ډیره مرسته وکړی او له بلی خوا به د ډیرو هغو ناروغیو مخه هم ونیول شی چی د داراز ناولیو کړو وړو څخه را پیدا کیږی .

دا و زموږ څو وړاندیزونه چی درته و مولیکل نورمو په لوی خدای سپارو .

والسلام

ریدی گل له نوی ښاره

گرانه ریدی گله وروره! دا دی ستا لیک مو ټکی په ټکی خپور کړ، ښایی د ښاروالی چارواکی به د ښاریانو ستونزو ته په پاملرنی سره په دی هکله ژر تر ژره مناسب اقدامات وکړی .

اداره

پاتي | د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوري مرستیال ...

کښندني ترسره شوی چی اوس بی پوره مخ نیوی شوی او له دوو کلونو را پدی خوا تقریباً ۲۵۰۰ قلمه لرغونی اثار د پکتیکا، لغمان، او تورخم له لارو څخه او همدارنگه د کابل له ښار نه تر لاسه شوی او ملی موزیم ته سپارل شوی. همدارنگه موږ له یونسکو او هغو نړیوالو موسسو څخه چی په دی اړه کار کوی غوښتي چی له موږ سره زموږ د هیواد د لرغونو اثارو په تحفظ او خوندی کیدو کي مرسته وکړی. د اسلامی امارت دغه هڅی ددی ښکارندوی دی چی امارت د لرغونو اثارو د ساتنی په اړه څومره توجه لری .

پاتي | په ایران که د «هم میهن» ورځپاڼه ...

کوونکو له لوری د اووه لسو شکایتونو ذکر شوی دی چی زیاتره بی د ایران د سخت دریزه ځانگو لکه د پولیسو ، د استخباراتو د وزارت او د انقلابی گارد له لوری شوی دی .

د «هم میهن» ورځپاڼی له تیرودریوو میاشتو را په دیخوا خپرونی کولی. دغه اعتدال خوښوونکی ورځپاڼه د تهران د پخوانی ښاروال غلام حسین کرباسچی په مشری له هغه وروسته چی له زندان نه راوزی په خپرونو پیل کوي. ښاغلی کرباسچی په فساد کی د لاس لرلو په تور په بند محکوم شوی و چی نوموړی د خپل بند یوه برخه هم تیره کړی ده . د «هم میهن» په تړلو سره له تیرو څو اونیو را په دی خوا په ایران کی ټولی ۱۷ اصلاحات غوښتونکی ورځپاڼی تړل شوی دی. خو لا هم یو محدود شمیر دغه ډول ورځپاڼی خپرونی کوی. له هغه وخت نه چی د ورځپاڼو د تړلو بهیر پیل شوی ورسره د اصلاحاتو پلوی د بهار په نوم یوه بله ورځپاڼه پرانیستل شوی د ورځپاڼو په تړلو سره خبریالان هم تر محاکمی لاندی نیول شوی دی. چی په دوی کی دوه وتلی خبریالان عماد الدین

پاتي | یوه اندازه...

هڅو او هاند له امله په دی وروستیو وختو کی د کابل ښار له مربوطاتو څخه ځلور دیرش قلمه لرغونی او تاریخی اثار کشف او تر لاسه شویدی.

خبر ځای زیاته کړه ددغو ډول ډول لرغونو او ارزښتناکو اثارو عامل همایون د عبدالقدوس زوی هم نیول شویدی.

خبر ځای تایید کړیده چی ددغو اثارو مادی

پاتي | دملخانو د له منځه...

آژانس خبریال ته څرگند کړ او وی ویل د کرنی او مالداری وزارت د هیواد د شمال په سیمو کی ددغه افت د پیدا کیدو په باب د خبر له ترلاسه کولو سره سم د خپلو ماهرانو تیمونه د هیواد د شمال سیمو ته واستول چی د بلخ کندز او د بغلان د ولایتونو د حیوانی کلینیکونو له امکاناتو او درملو څخه په استفادی سره د ملخو له شته والی څخه د کرنیزو ځمکو په پاکولو کی اقدام وکړی.

له نیکه مرغه ددغو ولایتونو په حیوانی او زراعتی کلینیکونو کی د اړتیا وړ درمل موجود و او د کرنی او مالداری وزارت ماهرانو د سیمو له خلکو او کروندگرو سره په مستقیمه همکاری کی په عملی کار پیل وکړ.

موږ وبلی شو چی یوازی د بلخ په ولایت کی څه دپاسه پنځوس زره جریبه ځمکه د ملخو له شتوالی څخه پاکه شویده او د هیواد د شمال په سیمو کی د ملخو پر خلاف سخته مجادله روانه ده . د کرنی او مالداری محترم وزیر زیاته کړه په تیرو وختونو کی د هیواد د شمال د سیمو گاونډیو هیوادونو د ملخو د نفوذ او مخنیوی لپاره اقدام کاوه له بده مرغه په وروستیو څو کلونو کی د غو هیوادونو هم په دی اړوند کوم اقدام ندی کړی.

دغه راز د کرنی او مالداری وزارت په دی برخه کی د مرستو د جلبولو په مقصد د نړی د خوراکی موادو او کرنی له موسسی سره تماس ونیوه چی له نیکه مرغه دغی موسسی په دی برخه کی له موږ سره مرسته وکړه . موږ خپلو هیوادوالو ته ډاډ ورکوو چی د کرنی او مالداری وزارت په دی باب لازم تیاری لری نو ځکه له دی پلوه کومه اندیښنه نشته .

باغی او اکبر گنج شامل دی دوی په ایران کی د اهل خبره ناراضیانو د زنجیری وژنو په نوم چی دوه کاله وړاندی ترسره شوی په څرگندولو سره نوموړی قضیه زیاته احساساتی کړی ده .

اوس د ښاغلی بهار د محاکمی بهیر وروستی مرحلی ته ورلنډ شوی دی ولی بر عکس ښاغلی گنج له تیرو څو اوونیو را په دیخوا پرته له محاکمی په بندی خانه کی پروت دی. دده کورنی د هغه د شرایطو او روغتیایی حالت په هکله اندیښمنه ده .

بقیه | موضوع افغان ترانزیت...

بالاثر آن توافق بعمل آمد تا این موضوع مشکل نهایي را به خود بگیرد که براي مردمان هر دو کشور از موثریت و مفیدیت کامل برخوردار باشد همچنان در این نشست در رابطه به ایجاد تسهیلات بیشتر و زمینه هاي لازم جهت رفت و آمد مهاجرین افغاني بحث صورت گرفت و توافق بعمل آمد که در این رابطه در رفت و امد مهاجرین هیچگونه مشکلي ایجاد نگردد این مذاکرات تقریباً دو ساعت به طول انجامید .

پاتي | امور امنیتي شهر...

امور جنايي و بهبود هر چه بیشتر امور مربوط اخیراً امور جنايي و قوماندانی امنیه ولایت کابل و حوزه هاي دوازده گانه آنرا دقیقاً مورد غور و بررسي قرار داد .

در این میان هیأت متذکره ضمن ارائه گزارش کار خویش به وزارت امور داخله به مسوولین و منسوبین جنايي قوماندانی امنیه و حوزه هاي مربوط را در جهت انسجام و بهبود هر چه بیشتر امور مشوره هاي سودمند داده آنانرا به انجام خدمات صادقانه به مردم و جلوگیري از منکرات و انحرافات اخلاقي فرا خواند.

پاتي | ا.ا.ا.همیشه با موسسات...

گفت : امارت اسلامي افغانستان همیشه با موسسات خیریه بین المللي همکاري همه جانبه بعمل آورده است .

بالمقابل محترم معین وزار امور خارجه از سعي و تلاش ناظم کمك هاي بشري سازمان ملل متحد و مساعتد آن سازمان به مردم افغانستان ابراز قدرداني نموده گفت : امارت اسلامي افغانستان همواره کوشیده تا زمینه بهتر کار و فعالیت موسسات خیریه بین المللي را براي شان در داخل کشور مساعد ساخته و حاضر است تا تمام مشکلات از طریق مذاکره و مفاهمه حل گردد.

شاغلي ابرك دیمول ناظم کمك هاي بشري سازمان ملل متحد براي افغانستان دیروز در راس یك هیأت غرض ملاقات وارد کابل گردیده است.

پاتي | د ستري محکمي ...

په محکمو کی د دوسیو د حل او فصل او د نورو اجرااتو د څرنگوالی په باره کی بی بشپړ او مفصل معلومات تر لاسه کړل .

دغه راز هیأت د محبسونو د کتنی په بهیر کی له بندیانو سره له نږدی وکتل او هم بی د هغوی د احوالو او برخلیک په باب له چارواکو څخه پوښتنی وکړی چی د څیړنی په نتیجه کی د ستونزو او مشکلاتو د لری کولو او د نواقصو د اصلاح کولو په خاطر یو لړ اقدامات وشول.

د هیلمند ولایت د اړوندو ولسوالیو په محکمو کی د هیأت کار دوام لری.

د گڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

پاتي | په ختیځ زون کي حالات ...

محترم مولوی صدراعظم د شریعت اوونیزی له خبریال سره د یوی مرکی په ترڅ کی کړی.

نوموړی د ختیځ زون د امنیتی وضعي په هکله وویل : د ختیځ زون مسلمان خلک له اسلامی امارت سره د زړه له کومی خواخوږی او مرسته لری له همدی کبله دلته څه داسی پیښه نه را منځ ته کیږی چی امنیت ته خطر وی.

نوموړی د یوی بلی پوښتنی په ځواب کی زیاته کړه په ختیځ زون کی پر نورو فعالیتونو برسیره عمرانی کارونو ته هم بشپړه توجه شوی د کابل جلال اباد د سړک کار فعلاً جریان لری همدارنگه د جلال آباد لغمان د لویی لاری ترمیم په چټکی روان دی په جلال آباد ښار کی د امارتی ودانیو ترمیم، د نوو ښوونځیو او کلنیکونو ودانول د طب پوهنځی او همدارنگه نور ټولگټی تاسیسات تر ترمیم لاندی دی .

نوموړی دا هم وویل چی ددی عمرانی کارونو لگښت ټول ددی زون له گمرکی کی او نورو عوایدو څخه تر لاسه کیږی پردی برسیره د امارتي کارکونکو معاشات او حقوق هم تری ورکول کیږی او څه چی له دی ټولو څخه اضافه شی نو هغه بیا مرکز ته لیږدول کیږی

محترم مولوی صاحب زیاته کړه د ننگرهار متدین خلک د خپل افغانی او اسلامی اصالت له مخی له موجوده شرعی زعامت نه راضی دی موږ هم ټول کارونه له هغوی سره په مشوره حل کوو. په

اووني کی یو ځلی د ننگرهار له قومی مشرانو سره یوه شورا لرو چی په دی مشوره کی په ټولو اړوندو موضوعاتو خبری کیږی او د حل په اړه بی گډ تصمیم نیول کیږی.

پاتي | در شهر هرات ...

موصوف افزودند : با اجراي دقیق موازین امنیتي در ولایت هرات اکنون سطح جرایم از قبیل سرقت، قتل ، قمار، احتکار و سایر جرایم و مفاسد اخلاقي به حد قابل ملاحظه پائین آمده و درین اواخر توطئه سازمان شده عده از عناصر فروخته شده ، که میخواستند امنیت و نظم شهر و اطراف آن را بر هم زنند، خنثي و عاملین آن دستگر و به پنجه قانون سپرده شدند .

همچنان مسؤول ترافیك ولایت باستاني هرات در مورد فعالیت هاي انجام شده این اداره به خبرنگار ما چنین توضیحات ارائه داشتند : ترافیك ولایت هرات در ساحه عملیات ترافیکي جهت تأمین نظم و امنیت با داشتن ۲۸ پوسته امنیتي با استفاده از پروگرام هاي تربیوي وسایط نقلیه، لودسپیکر هاي دستي وسایل مخابروي با یونیفورم منظم وضع آرام جاده ها و ترافیك نسبتاً سنگین هرات را تحت کنترول و مراقبت داشته که این مامول با رهنمایي هاي سودمند نصب شعار ها ، تابلو هاي رهنمایي و اعلامیه هاي مکرر به نتایج مطلوب منجر شده است. ستیشن ها و رهنمایي ترافیکي در چوك ها و نقاط مزدحم شهر با همکاري ریاست محترم شاروالي از بروز حوادث نامطلوب و دلخراش ترافیکي جلوگیري بعمل آورده موظفین ترافیك وقتاً فوقتاً اسناد و مدارك و جواز هاي دریوران و سیر و حرکت آنها را ملاحظه مینماید که به فضل خداوند «ج» به میزان قابل توجهي از بروز حوادث ترافیکي جلوگیري بعمل آمده است . محترم قاري محمد علي مدیر ترافیك هرات در مورد این که در خارج از شهر هرات نیز عملکرد هاي احتمالي ترافیك محسوس است با خبر گفت : در شهرك و بندر تورغندي یك پوسته دایمي به کمیت یك بلوك مسوولین و منسوبین ترافیك موجود بوده که فعالیت آنها انتظام قابل وصفي در کار و فعالیت عراده جات و وضع ترافیکي و ترانسپورتي بوجود آورده است .

تهیه کننده : عطا محمد «فریادي »

پاتي | علما نن د ټول ...

کړل. وروسته د پکتیکا محترم والی علماو او ولسوالانو ته د خپلو خبرو په ترڅ کی داسی وویل :

د نړیوال استکبار د کفری دسیسو له امله نن اسلامی امت په راز راز ستونزو مبتلا دی او فقط علما کولای شی چی اسلامی امت ته له دی ستونزو څخه نجات ورکړی او هم یواځی هغوی کولای شی چی ملت د اسلامی ترقی او نیکمرغی په لوری رهبری کړی نوموړی په سیمه کی د علماو د شوراگانو دایرول مثبت گام وباله چارواکو ته بی د شوراگانو په همېشه دایرولو توصیه وکړه . د سیمی محترمو ولسوالانو والی صاحب ته د ټولو هغو شرعی اوامرو چی د هیواد د سوکالی سبب گرځی د بشپړ پلی کیدلو اطمینان ورکړ او هغه ته بی وویل : موږ پوهیږو چی اسلامی علما په ټولنه کی د ځلاندو ډیرو حیثیت لری چی له رڼا څخه بی د جامعی ټولی گوښی رڼا او خلک د هغو په پلو شو کی ژوند کوی. موږ به کوښښ کوو چی خپل کارونه د اسلامی هدایاتو او د همدغو علماو د عالمانه لارښوونو سره سم عیار او خلکو ته د خدمت مصدر وگرځو .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Sageb
Printed by: Emirat Printing Press